# إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يُرْفَعَ العِلْمُ، وَيَكْثُرَ الجَهْلُ، وَيَكْثُرَ الزِّنَا، وَيَكْثُرَ شُرْبُ الخَمْرِ، وَيَقِلَّ الرِّجَالُ، وَيَكْثُرَ النِّسَاءُ حَتَّى يَكُونَ لِخَمْسِينَ امْرَأَةً القَيِّمُ الوَاحِدُ». «بې شکه چې د قيامت له نښانو څخه دا دي چې علم پورته کړی شي، ناپوهي زياته شي او زنا ډېره شي، د شرابو څښل زيات شي، سړي کم شي او ښځې زياتې شي تر دې چې د پنځوسو ښځو سرپرستي به يو سړی کوي

له أنس رضي الله عنه څخه روايت دی چې ويلي يې دي: خامخا به زه تاسو ته يو حديث بيان کړم چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه مې اورېدلي دي او زما پرته به يې بل څوک تاسو ته بيان نه کړي: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې فرمايل يې: «إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يُرْفَعَ العِلْمُ، وَيَكْثُرَ الجَهْلُ، وَيَكْثُرَ الزِّنَا، وَيَكْثُرَ شُرْبُ الخَمْرِ، وَيَقِلَّ الرِّجَالُ، وَيَكْثُرَ النِّسَاءُ حَتَّى يَكُونَ لِخَمْسِينَ امْرَأَةً القَيِّمُ الوَاحِدُ». «بې شکه چې د قيامت له نښانو څخه دا دي چې علم پورته کړی شي، ناپوهي زياته شي او زنا ډېره شي، د شرابو څښل زيات شي، سړي کم شي او ښځې زياتې شي تر دې چې د پنځوسو ښځو سرپرستي به يو سړی کوي».

[صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی)]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې د قيامت له نښو څخه يوه دا ده چې په دين پوهه به پورته کړای شي، او دا - کار - به د علماوو په مړينې سره کيږي، او په پايله کې جهالت زياتيږي او خپريږي، زنا او فحاشي خپريږي، د شرابو څښل زياتيږي، د نارينه و شمېر کميږي او د ښځو شمېر زياتيږي، تر دې چې پنځوس ښځې به يو سرپرست ولري تر څو يې چارې سمبالې کړي او پاملرنه ورته ولري.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65021